UK Health Security Agency

NHS

# د MenB واکسینو له تطبیق وروسته د تبې د مخنیوي او درملنې لپاره له پرستامولو څخه استفاده

### زما ماشوم اوس تازه د MenB واکسین کړی دی، نو څه تمه باید ولرم؟

د هر ډول واکسینو له تطبیق وروسته تبه رامنځ ته کېږي، خو د واکسینو سره یو ځای د 8 او 12 اونیو MenB که چېرې پرستامول استفاده نه شي، نو له نیمايي زیات نوي زیږېدلي ماشومان د دې واکسینو له تطبیق وروسته تبه پیدا کړي. تبه د واکسینو له تطبیق 6 ساعته وروسته خپل نهايي حد ته رسېږي، او تقریبا همېښه په 2 ورځو کې په بشپړ ډول له منځه ځي. که څه هم د هر ماشوم د تبې کچه توپیر کوي او نه شي ښودلی چې دا واکسین څومره د ماشوم لپاره ګټور دی، خو تبه موږ ته دا ښيي چې د ماشوم د بدن دفاعي سیستم د واکسینو په وړاندې عکسالعمل ښيي.

### څنګه کولی شم د تبې ګواښ راټیټ کړم؟

له واکسینو وروسته مو ماشوم ته دفعتا پرستامول ورکړئ – د تبې پیدا کېدو ته مه په تمه کېږئ – دا کار مو د ماشوم د تبې ګواښ راکمولی شي. د پرستامولو له خوړلو وروسته له 5 څخه په 1 ماشوم کې تبه پیدا کېږي، چې تقریبا ټولې ملایمې تبې وي (له 39 درجو څخه ټیټه). همدارنګه، پرستامول ستاسو د ماشوم خارښت او ناآرامي هم راکمولی شي (مثلا د پېچکارۍ په ځای کې درد).

### له کوم ډول پرستامول څخه استفاده وکړم؟

تاسو باید **د ماشومانو لپاره د پرستامول له مخصوص شربت څخه استفاده وکړئ. دا ډول پرستامول په مایع شکل کې راځي ترڅو ماشومان او تنکي ځوانان یې په اسانه استفاده کړی شي. د دې مایع یا شربت غلظت یا قوت 120mg/5ml کې دی.**

که چېرې مو په کوم کې د ماشومانو لپاره مخصوص پرستامول شربت نه لرئ، نو هڅه وکړئ چې له خپل محلي درملتون یا پلورنځي څخه یې ترلاسه کړئ ترڅو وکولی شئ چې د واکسینو له تطبییق څخه یې یو ساعت وروسته خپل ماشوم ته ورکړئ. په دې شربتونو کې بېلابېل ډولونه شته چې کولی شئ انتخاب یې کړئ، لېکن هغه ډول چې تاسو اړتیا ورته لرئ باید د 150mg/5ml پرستامول شربت وي.

(نوټ: جونیر پرستامول (له 6 کلنو څخه پورته) د ماشوم د پرستامولو څخه چې غلظت یې 150mg/5ml وي، پیاوړی دی او باید یوازې د نویو زیږېدلیو ماشومانو لپاره استفاده شي.)

### وروسته له کومو واکسینو څخه باید خپل ماشوم ته پرستامول ورکړم؟

تاسو ته توصیه کېږي چې د MenB له واکسینو څخه وروسته خپل ماشوم ته پرستامول ورکړئ. د MenB واکسین معمولا د واکسینو په لومړي او دوهم دور کې ستاسو ماشوم ته ورکول کېږي، چې عمر یې له 8 تر 12 اونیو پورې وي.

کله چې ستاسو ماشوم ته په 12 میاشتني عمر کې د MenB تقویتي دوز واکسین ورکړل شي، نو له هغې وروسته پرستامولو ته په دوامدار ډول اړتیا نشته. په دې عمر کې ماشوم ته د تبې پیدا ګواښ د نورو واکسینو په شان وي.

### څومره پرستامول باید خپل ماشوم ته ورکړم؟

سپارښتنه کېږي چې د MenB له واکسینو وروسته مو باید ماشوم ته 3 ځله 2.5ml (ټول 60mg) پرستامول ورکړئ. لومړی دوز باید د واکسینو له تطبیق څخه دفعتا وروسته ورکړئ.

دوهم دوز باید له 4 تر 6 ساعته وروسته ورکړئ او دریم دوز هم له دې څخه 4 یا 6 ساعته وروسته ورکړئ (جدول وګورئ).

هر 2.5ml دوز باید د سیرنج یا یوې قاشوغې په واسطه اندازه شي (دا معمولا د شربت د قطیو وره کاشوغه وي).

له وخت څخه مخکې زیږېدلیو ماشومانو لپاره (هغه چې له 32مې اونۍ مخکې زیږېدلي وي)، ډاکټران باید د ماشوم وزن ته په کتو سره هغه ته پرستامول تجویز کړي. په دې هکله باید له ډاکټر سره خبرې وکړئ او نسخې مطابق د هغه لارښوونې تعقیب کړئ.

### د MenB له واکسینو وروسته د ماشومانو د پرستامول د شربت (120mg/5ml) د مصرف اندازه او وخت (معمولا د ماشوم د عمر له 8 تر 12 اونیو پورې)

| د ماشوم عمر | تر 6 میاشتو پورې (معمولا له 8 تر 12 اونیو) |
|---|---|
| لومړی دوز | یو 2.5ml (60mg) دوز دفعتا د واکسینو له تطبیق وروسته |
| دوهم دوز | یو 2.5ml (60mg) دوز له لومړي دوز څخه له 4 تر 6 ساعتو وروسته |
| دریم دوز | یو 2.5ml (60mg) دوز له دوهم دوز څخه له 4 تر 6 ساعتو وروسته |

**په دغه لارښود کې موجوده لارښوونې یوازې هغه وخت د تطبیق وړ دي چې ستاسو ماشوم د واکسین کړي وي. MenB که چېرې ستاسو ماشوم تبه ولري نو باید په محصول باندې مندرجه د تولیدي مرجع او دغه لارښود لارښوونې او سپارښتنې په پام کې ونیسئ.**

### که چېرې له 3 دوزه پرستامولو وروسته بیا هم زما ماشوم تبه ولري، څه باید وکړم؟

ځینې ماشوم ښایي د واکسینو له تطبیق وروسته هم تبه ولري، حتی که 3 دوزه یا درې ځله پرستامول هم وخوري. که چېرې ستاسو ماشوم د واکسینو له تطبیق 48 ساعته وروسته بیا هم تبه لري خو وضعیت یې ډېر خراب نه وي، کولی شئ هغه ته د ماشومانو لپاره د ځانګړیو شویو پرستامولو 2.5ml (60mg) ورکړئ.

- **تاسو باید د هر ځل درملو استفادې ترمنځ حداقل 4 ساعته زماني واټن مراعات کړئ، او هېڅکله په 24 ساعتونو کې تر 4 ځله ډېر درمل استفاده نه کړئ.**

همدارنګه تاسو باید خپل ماشوم سوړ او یخ وساتئ او په ډېرو جامو یا کمپلو کې یې و نه نغاړئ او هغه ته په پراخه پیمانه مایعات ورکړئ. که چېرې ستاسو ماشوم تی روي، نو د هغه لپاره تړتولو غوره مایعات هماغه د مور شیدې دي.

- **که چېرې تاسو ته د خپل ماشوم په هکله په هر وخت کې کومه اندېښنه پیدا کېږي، نو په خپل نفس اعتماد ولرئ او د خپل عمومي ډاکټر یا GP سره مشوره وکړئ یا هم په انګلستان کې د NHS د 111 او په ویلز کې د 47 46 0845 شمېرې سره اړیکه ونیسئ.**
- **که چېرې ستاسو ماشوم د واکسینو له تطبیق 48 ساعته وروسته هم تبه لري، نو باید د خپل عمومي ډاکټر یا GP سره مشوره وکړئ یا هم په انګلستان کې د NHS د 111 او په ویلز کې د 47 46 0845 شمېرې سره اړیکه ونیسئ.**

## نورې عامه پوښتنې:

### آیا خپل ماشوم د پرستامولو ورکولو لپاره ویښ کړم؟

تاسو باید خپل ماشوم ته د MenB واکسینو له تطبیق وروسته هرڅومره ژر چې کولی شئ لومړی دوز پرستامول ورکړئ. نو که چېرې ستاسو ماشوم د راتلونکو دوزونو د تطبیق پرمهال ویده وي، نو مه یې راویښوئ. کولی شئ هغه ته د راویښېدو سره سم د 4 ساعته زماني واټن په پام کې نیولو سره راتلونکی دوز ورکړئ.

### آیا د کوچنیو ماشومانو لپاره هم د پرستامولو ورکول مناسب دي؟

پرستامول د تبې د کنټرولولو لپاره تصویب شوي درمل دي چې له 2 میاشتو وروسته ماشوم ته ورکول کېدی شي. د ناروغ لارښود چې د تولیدي مرجع لخوا د خپل محصول سره یو ځای ترتیب شوی، دا سپارښتنه کوي چې د هغو ماشومانو لپاره چې عمرونه یې له 2 تر 3 میاشتو وي ډاکټر یا درمل پلورونکي سره له مشورې مخکې یوازې 2 دوزه ورکول کېدی شي.

نو پرستامولو د خورا کوچنیو ماشومانو لپاره هم خوندي او بې ضرره دي، خو د محصول سره په ضمیمه شوي لارښود باندې اشاره شوې ده چې د مبهمې یا پېچلې تبې پرمهال باید له دغو درملو څخه استفاده و نه شي. دا ډول تبه ښایي د جدي میکروب یا ناروغۍ علامه وي چې اوږدمهاله درملنه یې کېدی شي د دې لامل شي چې والدین و نه شي کولی په وخت سره طبی مرسته ترلاسه کړي.

دا چې د واکسینو له تطبیق وروسته تبه یوه عامه موضوع ده، نو متخصصین سپارښتنه کوي چې د MenB واکسینو له تطبیق 48 ساعته وروسته والدین کولی شي له طبي مشورې پرته خپل ماشوم ته پرستامول ورکړي.

په دغې موده کې د تبې رامنځ ته کېدل په لوړ احتمال سره د واکسینو له امله وي نه د کومې ناروغۍ له امله. د پرستامولو په تطبیق سره به ستاسو ماشوم د بهترېدو احساس وکړي، او په 24 ساعتونو کې د 4 دوزونو چې هر دوز باید 2.5ml وي په مراعات کولو سره ماشوم ته هېڅ خطر نشته.

### ولې د تولیدي مرجع لخوا د محصول په ترتیب شوي لارښود کې (PIL) کې مختلف معلومات درج وي؟

تاسو به د خپلو پېرل شویو پرستامولو په قطې کې د ناروغ معلوماتي لارښود (PIL) پیدا کړئ. کېدی شي د ماشومانو د پرستامول شربت په لارښود کې د درملو ټاکل شوی مقدار 120mg/5ml د هغه څه سره متفاوت وي چې د MenB واکسینو له تطبیق وروسته د ډاکټر لخوا ناروغ ته ویل کېږي. دلته په دغه لارښود کې مورډ د MenB واکسینو له تطبیق وروسته ناروغ ته په لارښود کې د مندرجه سپارښتنو جزئیات ورکوو. د پرستامولو په اړه د بشپړو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د تولیدي مرجع لارښود PIL وګورئ.

### آیا زما ماشوم په 12 میاشتنۍ کې د تقویتي دوز واکسینو د تطبیق پرمهال پرستامولو ته اړتیا لري؟

په 12 میاشتنۍ کې د MenB واکسینو له تطبیق وروسته ستاسو د ماشوم لپاره د تبې خطر لکه د نورو واکسینو په شان دی. نو ستاسو ماشوم به په 12 میاشتنۍ کې د معمولي واکسینو د تطبیق پرمهال 3 دوزه پرستامولو ته اړتیا و نه لري. نو که چېرې ستاسو ماشوم په کور کې تبه یا ناراحتي کوي، کولی شئ هغوی ته د محصول د لارښود او د ماشوم د عمر مطابق پرستامول ورکړئ.

**هغه سپارښتنه چې له مخې یې د هغو ماشومانو لپاره چې عمرونه یې له 2 تر 3 میاشتو وي تر دوه دوزه ډېر پرستامول ورکول کېږي، یوازې هغه وخت د تطبیق وړ ده چې ماشوم خپل د MenB واکسین کړي وي. که چېرې ستاسو ماشوم له دې پرته په بل هر وخت کې تبه لري، نو تاسو باید د تولیدي مرجع لخوا د محصول په اړه په ترتیب شوي لارښود کې مندرجه لارښوونې او سپارښتنې په پام کې ونیسئ.**

NHS

www.nhs.uk/vaccinations

© Crown copyright 2025. Version 4. UK Health Security gateway number: 2025-153. Product code: 3083756PAS Pashto. 50K SEP 2025 (APS)
To order more copies of this asset, please visit: **www.healthpublications.gov.uk** or call 0300 123 1002.